# د افغانستان اسلامي امارت

# د کانونو او پترولیم وزارت

د هایدروکاربنونو د تنظیم عمومي ریاست

General Directorate of Hydrocarbons Management

# د لېوالتیا څرګندولو لپاره غوښتنه

## د کُشک زون ۱،۲ او د کُشک-تیرپل حوزې د ګازو او نفتو د اکتشاف او د تولید د شراکت لپاره داوطلبي

دسمبر ۱۶، ۲۰۲۳

## لړلیک


1 پېژندنه.... 1
2 د قرارداد ساحه..... 1
3 د داوطلبۍ د پروسې مهالوېش..... 2
4 د اهلیت په اړه اړین معلومات..... 2
4.1 حقوقي معلومات.... 3
4.2 مالي وړتیا........ 3
4.3 تخنیکي وړتیا.... 4
5 د لېوالتیا څرګندولو د اسنادو وړاندې کول....... 6
6 د داوطلبۍ فیس.... 7
7 د وضاحت غوښتنه..... 7
8 لومړۍ ضمیمه: د داوطلبۍ ساحې بلاکونه 8
9 دویمه ضمیمه: په کشک تیرپل حوزه کې احتمالي ساختمانونه او سایزمیکي کرښې.............................. 9
10

## 1 پېژندنه

د افغانستان اسلامي امارت د کانونو او پترولیم وزارت له ټولو پر شرایطو برابرو نړیوالو شرکتونو څخه د افغانستان په شمال لوېدیځ او لوېدیځ کې د کُشک زون ۱، ۲ او د کُشک-تیرپل حوزې د کُشک د نفتو او ګازو (هایدروکاربونونو) د اکتشاف، پراختیا او تولید په موخه په پرانیستې، شفافې او رقابتي داوطلبۍ کې د ګډون لپاره د لېوالتیا څرګندولو (EoI) غوښتنه کوي. دغه داوطلبي د افغانستان د نفتو او ګازو قانون له مخې ترسره کېږي او تمه ده چې د داوطلبۍ دغه پروسه به د اکتشاف او د تولید شراکت د قرارداد ورکولو (EPSC) په بڼه د ۲۰۲۴ کال تر دویم ربعې پورې دوام ومومي او غوره داوطلبان به د ۲۰۲۴ کال د اپریل میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې اعلان شي.

له هغو شرکتونو او کنسرشیومونو څخه چې په دې داوطلبۍ کې د ګډون لپاره لېوالتیا لري، هیله کېږي چې د داوطلبۍ د هرې ساحې لپاره د لېوالتیا څرګندولو لیک، صلاحیت نامه چې په ۳ مه ضمیمه کې نښلول شوې او هم په کشک-تیرپل حوزه کې د هایدروکاربونونو د عملیاتو د ترسره کولو په موخه د خپل حقوقي، مالي او تخنیکي وړتیاوو په تړاو معلومات د کانونو او پترولیم وزارت ته وړاندې کړي. په درېیمه برخه کې (د وړتیا یا اهلیت په تړاو اړین معلومات) د اړینو حقوقي، مالي او تخنیکي معلوماتو په اړه وضاحت وړاندې شوی.

د لېوالتیا اظهارلیک له ترلاسه کولو وروسته، د کانونو او پترولیم وزارت به په داوطلبۍ کې د ګډون په موخه د هر غوښتونکي ارزونه ترسره کړي. ددې لپاره چې یو غوښتونکی د داوطلبۍ پروسه کې د ګډون لپاره ومنل شي، ټول غوښتونکي باید خپل لېوالتیا لیکونه د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ تر ۱۵ نېټې پورې د کابل پر وخت د شپې تر ۱۲:۰۰ بجو پورې وزارت ته واستوي.

ټول اړین اسناد باید پر انګلیسي ژبه چمتو او واستول شي. د لېوالتیا څرګندولو لیک سره یو ځای باید د هېواد پر یوه رسمي ژبه (پښتو یا دري) باندې لږ تر لږه په پنځو پاڼو کې یو لنډیز چمتو شي. د لېوالتیا څرګندولو لیک کېدای شي چې د هارډ کاپي په بڼه وړاندې شي، خو په برېښنایي بڼه وړاندې کول یې حتمي دي او پر دغو پتو ( qaisbilal@momp.gov.af, mtk034@yahoo.com.) باید واستول شي. له غوښتونکو څخه هیله کېږي چې د وزارت وېب پاڼې www.momp.gov.af. په منظمه توګه وڅاري.

## 2 د قرارداد ساحه

د کُشک او تیرپل بلاکونه کابو ۲۳،۳۹۵ کیلومتره مربع ساحه په ځان کې رانغاړي. دغه ساحه چې د کُشک زون او تیرپل حوزې اړونده ده، له شمال لوېدیځ او لوېدیځ لورو څخه د افغانستان او ترکمنستان او ایران ترمنځ ګډه نړیواله پوله جوړوي. د کُشک زون د آمو دریا حوزې جنوب لور ته یو انتهي کلاینې زون دی چې د پاراپامیز-بند-ترکستان غرونو د لړۍ په لوېدیځه برخه کې موقعیت لري. د تیرپل حوزه یوه انتقالي حوزه ده چې د افغانستان په لوېدیځ کې موقعیت لري چې په ختیځ کې هرات ته له ورڅېرمه سیمې څخه پیل او په لوېدیځ کې د ایران تر سرحده پورې غځېږي. دغه حوزه په شمال کې د سفید کوه له انتهي کلاین او په جنوب کې د هرات/هریرود له شکستګي (فالټ لاین) سره وصل ده. د اکتشافي څاه ګانو او د جاذبوي او مقناطیسي ارزونو یا سروې ګانو پایلې په یاده ساحه کې د هایدروکاربنونو د غوره زېرمو شتون تاییدوي، خو په دې اړه لا زیاتو څېړنو ته اړتیا ده.

د داوطلبۍ ساحه پر دریو مختلفو سکشنونو یا برخو وېشل شوې ده: کُشک زون-۱ چې دغه زون پر ۳ بلاکونو (کُشک ۲،۱ او ۳) باندې وېشل شوی؛ کُشک زون-۲ چې پر ۴ بلاکونو (کُشک ۶،۵،۳ او ۷) باندې وېشل شوی او تیرپل چې پر ۴ بلاکونو (تیرپل۳،۲،۱ او ۴) باندې وېشل شوي دي.

د داوطلبۍ ساحې بلاکونه په ۱ ضمیمه کې په وړاندې شوې نقشه کې ښودل شوې دي. د کُشک زون ۱، ۲ او تیرپل کې د ساحو کوردینات، کیندل شوې څاه ګانې او د نفتو او ګازو احتمالي ساختمانونه په هغې نقشه کې ښودل شوي چې په ۲ ضمیمه کې وړاندې شوې ده.

## 3 د داوطلبۍ د پروسې مهالویش

وزارت هوډ لری چې د داوطلبۍ پروسه له لاندې مهالویش سره سم ترسره کړي:

| فعالیت | | نېټه |
|---|---|---|
| د داوطلبۍ اعلان او د لېوالتیا څرګندولو غوښتنه | | December 16, 2023 |
| د لېوالتیا څرګندولو د استولو لپاره ضرب الاجل | | January 15, 2024 |
| د اهلیت خبرتیا | | February 16, 2024 |
| د اهلیت لرونکو غوښتونکو لپاره د داوطلبۍ موادو چمتو کول | | Mar 1, 2024 |
| د داوطلبۍ ورځ/ د داوطلبۍ پرانیستل | | Mar 15, 2024 |
| د غوره داوطلبانو اعلان | | April 30, 2024 |
| د قرارداد ورکړه | | May 01, 2024 |

د وزارت د لزوم دید له مخې په پورتني مهالویش کې بدلون راتلای شي.

## 4 د اهلیت په اړه اړین معلومات

د افغانستان د نفت او ګازو قانون له مخې هغه شرکتونه چې له وزارت سره د اکتشاف او د تولید شراکت په بڼه تړون کوي، باید له ښه شهرت او غوره حقوقي او مالي وضعیت څخه برخمن وي او د اړینې پانګې، ماشینرۍ، وسایلو او تخنیکي تجربې د لرلو له پلوه خپله وړتیا ثابته کړای شي. همدارنګه د قانون پربنسټ د وزارت د ارزونې کمېټه ښایي له داوطلبانو څخه غوښتنه وکړي چې د هایدروکاربنونو د فعالیتونو د ترسره کولو په برخه کې د تجربې د لرلو لپاره اړین اسناد وړاندې کړي. د قانون د دغو حکمونو په پام کې نیولو سره، وزارت ښایي له ټولو غوښتونکو څخه غوښتنه وکړي چې د داوطلبۍ په پروسه کې د وړ شمېرل کېدو په موخه د داوطلبۍ هرې ساحې لپاره په جلا جلا توګه لاندې معلومات وړاندې کړي:

## 4.1 حقوقي معلومات

**4.1.1** د غوښتونکي او د هغه د ارتباطي کس بشپړ نوم، د ټیلیفون شمېره، برېښنالیک او د پوست پته یې. که چېرې غوښتونکی شخص یو کنسرشیوم وي، د کنسرشیوم هر غړی باید پورتني معلومات په جلا جلا توگه وړاندې کړي.

**4.1.2** د غوښتونکي د مالکیت جوړښت چې لاندې ټکي باید په پام کې ونیول شي:

الف. که چېرې غوښتونکی شخص یو سهامي شرکت، محدود مشارکت، محدودالمسئولیت یا هم بل ډول حقوقي شخصیت ولري (چې دلته د شرکت په نامه یادېږي): بشپړ نوم یې، د ثبت ځای یې، د فعالیت اصلي ځای یې، د رییسانو نومونه، پتې او تابعیت یې، اصلي کارکوونکي، شریکان، مدیریتي غړي، معتمدین او صلاحیته لرونکي مقامونه او د پانگې جوړښت یې؛

ب. که چېرې غوښتونکی شرکت د مشارکت یا هم له جلا حقوقي شخصیت پرته بل ډول جوړښت ولري (چې دلته د مشارکت په نامه یادېږي):

i. هره کمپنۍ چې ددې مشارکت غړیتوب ولري، ټول هغه اړین معلومات باید وړاندې کړي چې پورته ذکر شوي دي؛

ii. هر شخص چې د دغه ډول مشارکت غړیتوب لري، د هغه نوم، پته او تابعیت یې او؛

iii. د مشارکت د پانگې ډول یا جوړښت؛

ب. که چېرې غوښتونکی د کنسرشیوم جوړښت ولري نو:

i. د کنسرشیوم د هر غړي شرکت یا شریک په اړه هغه معلومات چې پورته یې یادونه شوې ده؛

ii. د کنسرشیوم د هر غړي د گډون علاقه؛ او

iii. د کنسرشیوم د هر با صلاحیته غړي لاسلیک؛ او

iv. په ۲.۱.۴ پاراگراف کې ذکر شوی هر غوښتونکی چې په شرکت کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توگه تر ۵۰٪ زیاته ونډه ولري، نو د عمده مالک یا (مور کمپنۍ) په اړه هغه معلومات چې پورته ذکر شوي دي، ولو که دغه عمده مالک یوه کمپنۍ وي یا مشارکت.

## *4.2 مالي وړتیا*

**4.2.1** د غوښتونکي مالي وړتیا په اړه معلوماتو کې چې په کُشک-تیرپل حوزه کې د اکتشاف، پراختیا او تولید عملیات تمویل کړای شي، لاندې ټکي شامل دي:

الف. که چېرې یو غوښتونکی د یوې کمپنۍ یا مشارکت جوړښت ولري: د درېیو کلونو کلني راپورونه، د تفتیش بیلانس شیټونه او د گټې او زیان اظهارنامې، او نور هغه راپورونه چې د هایدروکاربونونو د چارو د ترسره کولو په برخه کې د شرکت مالي وړتیا وښیي (یا هم د یو کنسرشیوم د غړي په توگه د هایدرو کاربونونو د چارو د ترسره کولو په برخه کې د هغه مالي ژمنې ثابتې کړای شي) او اړونده مسئولو حکومتي ادارو تایید کړې وي؛

ب. که چېرې کنسرشیوم وي: د هرې کمپنۍ یا مشارکت په اړه داسې معلومات چې له کنشرشیوم سره د هغوی غړیتوب څرگند کړي؛ او

ج. په ۱.۲.۴ پاراگراف کې ذکر شوی هر غوښتونکی چې په شرکت کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توگه تر ۵۰٪ زیاته ونډه ولري، نو د عمده مالک (مورکمپنۍ) په اړه هغه معلومات چې په ۱.۲.۴ پاراگراف کې ذکر شوي دي، ولو که عمده مالک یوه کمپنۍ وي یا مشارکت.

4.2.2 د غوښتونکي د مالي وړتیا په تړاو نور اړونده معلومات یا راپورونه چې له محدود پرته ښایي لاندې معلومات پکې شامل وي:

الف. د Standard & Poor's Rating Services، Moody's Investor Services، Dunn and Bradstreet او د مالي ارزونې د نورو ادارو له لوري له مالي اړخه د غوښتونکي اوسنۍ او مخکېنۍ ډلبندي؛

ب. د هر عمده مالک په اړه چې په ۱.۲.۴ ج برخه کې ذکر شوی، مالي معلومات؛

ج. د هایدروکاربن له اوسنیو تثبیت شویو زېرمو څخه چې اوسمهال د تولید په حال کې وي یا تولید ته نږدې وي، د غوښتونکي د راتلونکي نغدي جریان مفصل مالي اټکلونه؛

ج. د پورونو او نورو کریډیټ لاینونو په اړه جزییات چې له بانکونو یا نورو مالي بنسټونو څخه د لاسرسي وړ وي؛

د. د اضافي ونډو د عرضې په اړه جزییات چې ټاکل شوې په راتلونکو اووه میاشتو کې ترسره شي، چې په دې لاندې شواهد باید شامل وي: (۱) مالي وجوه موجوده ده او د پانګوال/پانګوالو له لوري یې ژمنه شوې وي؛ (۲) وړاندیز تضمین شوی وي او یا د یو پېژندل شوي بانک یا کوم بل مالي بنسټ له لوري منل شوې وي.

**4.2.3** په دې اړه جزییات چې غوښتونکی څنګه په کُشک-تیرپل حوزه کې د اکتشاف، پراختیا او تولید فعالیتونه تمویلوي، چې په دې کې د تمویل مقدار او سرچینې هم باید ذکر شي.

## *4.3 تخنیکي وړتیا*

4.3.1 د غوښتونکي تخنیکي وړتیا چې وکولای شي په کُشک-تیرپل حوزه کې اکتشاف، پراختیا او تولید ترسره کړي، لاندې ټکي په ځان کې رانغاړي.

الف. که چېرې یو غوښتونکی د کمپنۍ یا مشارکت جوړښت ولري:

i. د داسې راپورونو په وړاندې کولو سره شواهد چې د اړونده حکومتي ادارو له لوري تایید شوي وي او وښيي چې غوښتونکی په ورځ کې د څه باندې ۵،۰۰۰ بیرله نفتو د تولید وړتیا لري؛ یا

ii. په دې اړه د شواهدو وړاندې کول چې وښیي غوښتونکی له تخنیکي پلوه د هایدروکاربونونو د اکتشاف، پراختیا او تولید وړتیا لري؛ او

iii. په دې اړه شواهد چې غوښتونکی د ۴،۰۰۰ مترو په ژوروالي سره د څاه ګانو د کیندولو وړتیا لري یا هم په بالقوه ډول دا وړتیا لري؛ او

iv. د غوښتونکي د روغتیا، خوندیتوب او چاپېریال ساتنې د وړتیاوو په اړه جزییات او هم د غوښتونکي د برمه کارۍ، تولید او د ګازي ساحو د پروسس کولو له عملیاتو سره تړلي د روغتیا، خوندیتوب او چاپېریال ساتنې ټول ریکارډونه، په ځانګړې توګه په تېرو ۱۰ کلونو کې د $H_2S$ ګازو په اړه د غوښتونکي کارکردګي؛ او

v. په دې اړه جزییات چې غوښتونکي په تېرو ۲۵ کلونو کې د هایدروکاربنونو د تولید د شراکت د اوسنیو یا پخوانیو قراردادونو، جوازونو، تړونونو یا اجازه نامو ژمنې څومره رعایت کړي، چې په دې کې دا موارد شاملېږي، خو محدود نه دي: د برنامو او د حداقل تولید د ژمنو یا هم د فیسونو یا رویالټي د تادیې په تړاو د نظارتي اقداماتو یا پلټنو او د ژمنو د نه رعایت په اړه هر ډول معلومات.

ب. که چېرې کنسرشیوم وي، د کنسرشیوم د هغه غړي په اړه معلومات چې د آپرېټر په رول کې کار کوي؛

ج. په ۱.۳.۴ پاراګراف کې ذکر شوی هر غوښتونکی چې په شرکت کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه تر ۵۰٪ زیاته ونډه ولري، نو غوښتونکی باید د عمده مالک په اړه داسې معلومات وړاندې کړي چې د هغه د تخنیکي وړتیا بیانوونکي وي.

4.3.2 د هایدروکاربن فعالیتونو په برخه کې د غوښتونکي مخکښې تجربه او تخنیکي مهارت په ځانګړې توګه د سایزمیکي، برمه کارۍ او تولیدي فعالیتونو په برخه کې د غوښتونکي تجربه. غوښتونکي باید د subsalt یا د ګازو ژور اکتشاف په برخه کې خپلې تجربې برجسته کړي.

4.3.3 د هایدروکاربنونو د فعالیتونو په برخه کې د هغو پخوانیو تجربو په اړه جزییات چې د کُشک-تیرپل حوزه له فزیکي شرایطو سره مشابه وضعیت لري.

4.3.4 د کُشک-تیرپل حوزه کې د هایدروکاربنونو د اکتشاف، پراختیا او تولید په برخه کې د غوښتونکي د داخلي اړتیاوو په اړه جزییات چې دا ورتیاوې لاندې ساحې په بر کې نیسي:

الف. اکتشافي جیولوجي او جیوفیزیک؛

ب. د مخزن جیولوجي او انجینري؛

ج. د ځمکې لاندې ساحې د پراختیا ټکنالوجي؛

د. د اکتشافي څاه ګانو ډیزاین، برمه کاري او تکمیل؛

ر. د تولید پراختیا وا انجنیري؛ او

د. بشري سرچینې، روغتیا، خوندیتوب او چاپېریال ساتنه او د تاسیساتو مدیریت.

که چېرې غوښتونکی غواړي چې د خپلې داخلي وړتیا د تقویې په موخه له بهرنیو قراردادیانو او نورو متخصصینو سره په همکارۍ د کشک تیرپل حوزې په هایدروکاربوني عملیاتو کې برخه واخلي، د یادو بهرنیو قراردادیانو او متخصصینو په اړه جزییات باید وړاندې کړي. غوښتونکي دا هم باید بیان کړي چې له یاد بهرني قراردادیان څنګه مدیریت کوي.

4.3.5 په دې اړه د غوښتونکي وړتیا چې څنګه په کُشک-تیرپل حوزه کې د هایدرو کاربونونو د عملیاتو لپاره وسایل، ماشینري، تجهیزات او پرسونل له بهر څخه چمتو کوي.

غوښتونکي باید د اکتشافي عملیاتو د پیلولو په موخه د اړینو عمده منابعو سرچینې مشخص کړي.

4.3.6 د غوښتونکي د خطرونو د مدیریت سیستمونو، پالیسیو او پروسیجرونو په اړه جزییات کوم چې ټاکل شوې د هایدروکاربونونو عملیاتو کې د ښکېلو کسانو د روغتیا، خوندیتوب او هوساینې د خوندي کولو په موخه رعایت شي.

4.3.7 د چاپېریال ساتنې د خوندیتوب او رعایت په برخه کې د غوښتونکي د سوابقو جزییات، چې په دې جزییاتو کې په تېرو ۵ کلونو کې د اړونده حکومتي ادارو له لوري رسمي پلټنې، حکمونه یا حوالې شاملېږي.

4.3.8 د هغو پالیسیو او پروسیجرونو جزییات کوم چې ټاکل شوې غوښتونکی به یې د هایدرو کاربونونو د عملیاتو له امله چاپېریال ته د اوښتونکو زیانونو د مخنیوي، کمولو، د ککړتیا د مخنیوي د لارو چارو او نورو زیانونو د مخنیوي لپاره عملي کوي. غوښتونکی باید د فاضله ګازونو او اوبو د دفع کولو په تړاو خپلې پالیسي ګانې او پروسیجرونه روښانه کړي.

4.3.9 په دې اړه د غوښتونکي د تجربې جزییات چې د هایدرو کاربونونو د عملیاتو له امله د اغېزمنو سیمو له ځایي ټولنو سره څه ډول چلند کوي او د هغو پالیسیو او کړنو په اړه جزییات چې د کشک-تیرپل حوزه کې مېشتو ټولنو لپاره یې په پام کې لري.

غوښتونکی باید له ټولنو سره د تعامل یا چلند په اړه چې په مخ پر ودې هېوادونو کې یې عملي کړې وي، یو څو بېلګې وړاندې کړي.

پر هغو معلوماتو سربېره چې له ۱.۴ څخه تر ۳.۴ پاراګرافونو کې ذکر شوي دي، غوښتونکي اختیار لري چې له وزارت سره د خپلې تخنیکي او مالي وړتیاوو په اړه نور معلومات هم شریک کړي. همدارنګه غوښتونکي کولای شي چې غوښتل شوي معلومات پر هغه ترتیب سربېره چې په ۱.۴ – ۳.۴ پاراګرافونو کې ښودل شوی، په بله بڼه داسې وړاندې کړي چې منطقي تسلسل وي. خو د معلوماتو په لوستلو او ارزونه کې د اسانتیا په موخه، غوښتونکی باید په خپلو معلوماتو کې هر پاراګراف کې حواله یا ریفرانس ورکړي (لکه د ۲.۳.۴ پاراګراف په ځواب کې...). وزارت دا حق ځان ته خوندي ګڼي چې د یو غوښتونکي د حقوقي، مالي او تخنیکي کوایفو د څېړلو پرمهال له دربېمګړي څخه اضافي معلومات یا د معلوماتو تصدیق وغواړي.

## 5 د لېوالتیا څرګندولو د اسنادو وړاندې کول

ټول اسناد، د شرکت د کلنیو راپورونو، د نظارتي راپورنو او نور اړین اسناد باید په انګلیسي ژبه وړاندې شي.
دا خبره څرګنده ده چې ځینې کنسرشیومونه، په ځانګړې توګه هغه کنسرشیومونه چې په دې داوطلبۍ کې د ګډون لپاره تازه تشکیل شوي وي، توحید شوي مالي راپورونه او کاري مخینه نه لري. دغه ډول غوښتونکي باید وزارت ته کافي معلومات وړاندې کړي څو د کنسرشیوم د کنسرشیوم اهلیت و ارزول شي او هر کنسرشیوم باید یو ټاکل شوی آپرېټر ولري.

کله چې کوم غوښتونکی د ارزونې په پړاو کې وړ وګڼل شو او غواړي چې له کوم بل وړ غوښتونکي سره د کنسرشیوم یا ګډ مشارکت (JV) په بڼه تړون وکړي، غوښتونکو ته به په دې اړه د موجوده پروسیجرونو په اړه خبر ورکړل شي.
وړ غوښتونکي باید هڅه وکړي چې د اکتشاف او د تولید د مشارکت قرارداد د ورکړې په جریان کې د اهل ګڼل کېدو لپاره خپل ټول شرایط پوره کړي. د غوښتونکي د وړتیاوو په اړه معلوماتو کې چې مخکې وړاندې شوې وي، هر ډول مادي بدلونونه باید تعدیل شي، حتی که چېرې غوښتونکي په دې اړه له وړاندې خبرتیا ترلاسه کړې وي چې نوموړی اهل بلل شوی.

د لېوالتیا څرګندولو لیک باید د ۲۰۲۳ کال د دجنوری پر۱۵مه نېټه د کابل پر وخت د شپې دولس بجو پورې په لاندې برېښنالیک پتو واستول شي:

qaisbilal@momp.gov.af

mtk034@yahoo.com

او که لازمه بلل کېده، هارډ کاپي یې هم په لاندې پتو استولی شئ:

د پام وړ: قیس بلال

د کانونو او پترولیم وزارت، افغانستان

مکرویانو څلور لارې، کابل-افغانستان

ګرځنده ټیلیفون: 783422471 93+

برېښنالیکونه: qaisbilal@momp.gov.af & mtk034@yahoo.com


## 6 د داوطلبۍ فیس

د لېوالتیا څرګندولو د استولو په بدل کې هېڅ ډول فیس نه اخیستل کېږي. خو که چېرې یو غوښتونکي ته د وړ بلل کېدو خبرتیا واستول شوه، نوموړی اد دی چې د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته د ۱۵ ورځو په جریان کې ۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالر د داوطلبۍ فیس په توګه تادیه کړي چې دا فیس بېرته داوطلب ته نه ورکول کېږي. د داوطلبۍ فیس تر تادیه کولو او د داوطلبۍ اسنادو د محرمیت ساتلو په تړاو د تړون تر لاسلیک وروسته به داوطلب ته ټول اړین اسناد په واک کې ورکړل شي او ټاکل شوې چې دا اسناد د ۲۰۲۴ کال د مارچ تر ۱ نېټې پورې داوطلب ته ورکړل شي. د داوطلبۍ د فیس په اړه لارښوونې به داوطلب ته د اهل بلل کېدو د خبرتیا د استولو په وخت کې شریک شي.


## 7 د وضاحت غوښتنه

د لېوالتیا اظهارلیک په اړه د ډېر وضاحت ترلاسه کولو په موخه کولای شئ چې د ۲۰۲۴ کال د دجنوری تر ۱۵ نېټې پورې د qaisbilal@momp.gov.af او mtk034@yahoo.com برېښنالیکونو له لارې له وزارت سره په اړیکه کې شئ. د ټولو غوښتونکو ځوابونه به د داوطلبۍ وېب پاڼې له لارې هغوی ته وړاندې شی. له غوښتونکو هیله کېږي چې د وزارت وېب پاڼه په منظمه توګه وګاري: www.momp.gov.af

## 8 لومړی ضمیمه: د داوطلبی ساحې بلاکونه



# 9 دويمه ضميمه: په کشک-تيرپل حوزه کې احتمالي ساختمانونه او سايزميکي کرښې




| په لاندې جدول کې د داوطلبۍ د ساحې بلاکونه ښودل شوي | | |
|---|---|---|
| بلاکونه | د داوطلبۍ ساحې | د ساحې پراخوالی |
| Kushka-1 | Kushka Zone-1 | 3051.43 km$^2$ |
| Kushka-2 | | 1466.73 km$^2$ |
| Kushka-4 | | 1611.22 km$^2$ |
| Kushka-3 | Kushka Zone-2 | 1011.598 km$^2$ |
| Kushka-5 | | 1930.95 km$^2$ |
| Kushka-6 | | 3701.68 km$^2$ |
| Kushka-7 | | 3735.98 km$^2$ |
| Tirpul-1 | Tirpul | 2023.78 km$^2$ |
| Tirpul-2 | | 1280.95 km$^2$ |
| Tirpul-3 | | 1431.8 km$^2$ |
| Tirpul-4 | | 2149.34 km$^2$ |

## Annex C: Form of Power of Attorney

HYDROCARBONS EXPLORATION AND PRODUCTION TENDER

OF THE KUSHKA Zone- 1,2 & TIRPUL of KUSHKA TIRPUL BASIN

[POWER OF ATTORNEY TO BE SUBMITTED BY EACH INDIVIDUAL APPLICANT AND, IN THE CASE OF A CONSORTIUM, BY EACH MEMBER OF THE CONSORTIUM]

This Power of Attorney is made on [*insert date*] by [*insert name and organization / registration number of company as applicable*], constituted pursuant to the laws of [*insert company's country of origin*] whose registered headquarters is located in [*insert address of company headquarters*]. [IN THE CASE OF A CONSORTIUM, THIS INFORMATION SHOULD BE PROVIDED FOR EACH MEMBER] ([collectively,] the "*Applicant*").

This Power of Attorney is made in connection with the Applicant's participation in the Hydrocarbons Exploration and Production Tender for the Zone-1 of Kushka Tirpul Basin (the *"Tender Process*") and the Applicant hereby nominates [*insert full name and full address of Authorized Representative*], as its true and lawful Authorized Representative empowered to represent the Applicant in any and all matters pertaining to the Tender Process, including, but not limited to, representing the Applicant before the Ministry of Mines & Petroleum of the Government of the Islamic Emirate of Afghanistan, posing queries and requests for further information, receiving, submitting, and signing any documents directly and indirectly pertaining to the Tender Process, paying fees or taxes, negotiating and submitting bids for the Applicant, as well as undertaking any other acts necessary for the faithful compliance of the Authorized Representative's mandate of representing the Applicant in said Tender Process.

The Applicant hereby declares that anything that shall be done on its behalf by the Attorney in relation to or in connection with this Power of Attorney shall be as good, valid and effective as if it had been done by the Applicant.

IN WITNESS HEREOF, this Power of Attorney has been executed on and as of [insert date] and is signed by the Applicant's duly authorized legal representative:

[COMPANY]

By ___________________________________

[Title]

The undersigned hereby certifies that the person whose signature appears immediately above is the duly authorized legal representative of [COMPANY] and that the signature set forth above is that of such person.

By ______________________________ [Title]